د غزل د بیتونو شمېر د پنځو (۵)څخه تر پنځه لسو (۱۵) پورې وي ، ښه غزل هغه دی چې اووه (۷)بیته ولري ، همدارنګه د پښتو ادب نومیالی څېړونکی افضل رضا وایي : غزل هغه منظوم کلام دی چې مطلع او مقطع لري او د شعرونو شمېر یې طاق وي او لږ ترلږه پنځه بیتونه ولري ، خو ځینې پوهان بیا وایي چې د بیتونو د طاق مسئله کوم منطقي جواز نه لري او په معاصر شعري بهیر کې خو ډېر کم شاعران د دې خبرې پابندي کوي.

د دې روایت په هکله په پښتو کې نورڅه کوټلي ثبوتونه نشته ،خو یوازې حنان بارکزي د خپل دیوان په خاتمه کې د شعر په ژبه ددې روایت په اړه وایي:

په پښتـــــو ژبه مـــې ووایه کتاب

هر غزل یې اووه اووه بیته انتخاب

دا په دا چې مولانا مولـــــوي جام

د دیوان غـــزلـــې اوه بیته تما م

د غزل د بیتونو د شمېر په اړه خوشحال بابا وایي چې : زیات نه زیات دیارلس بیتونه باید ولري ، ددې څخه زیات د نوموړي په خیال د قصیدې رنګ غوره کوي ،خو ځینې شاعران د غزل د شعرونو انتهایي حد یویشت یا پنځه ویشت بولي.

# د غزل تاريخچه

د ليريک (غنايي) يا بدلې شعرونو د ډول پخوانی او لرغونی ژانر دی ، غزل په خيتځو ادبياتو کې د تخليقي ځرګندونو يوه غوره او په زړه پورې ذريعه ده چې له ځان سره ځانګړې روايات تړي ، غزل په فارسي ژبه کې د عربي ژبې د بوللې يا قصيدې له تشبيب يا نسيب نه رازېږېدلی.

په تاريخي لحاظ د غزل د دودېدو او پيدايښت دقيقه نېټه نه شو په ګوته کولای ،خو يوازې دومره ويلای شو چې د دې فورم پيدايښت او په ادبياتو کې رواج موندنه په شپږمه پيړۍ کې شوې ، دا هغه وخت وه چې قصيدې خپل ځای په ټوليزه توګه د غزل قالب ته پرېښوده ، د غزل د تاريخ د لا ښه وضاحت لپاره دا لازمه ګڼم چې د ښاغلي حبيب الله رفيع وينا کټ مټ رانقل کړم ((قصيده په عربي ادب کې يو بنيادي ژانر دی چې د عربو په جاهلي دوره کې يې ډېره وده کړې وه او عربو به ډېر ارزښت ورکاوه ،تر دې چې پياوړو شاعرانو به د قصيدو مسابقې سره کولې او د عطاظه په بازار او د مکې په دېوالونو به يې ځړولې او نور شاعران به يې ادبي مقابلې او ځواب ته رابلل . په قصيدو کې به داسې ستاينې او غندنې کېدې چې کله به د عربو په قبايلي جګړو کې وويل شوې ،نو د جګړې لوری به يې بدل کړ او بايللې جګړه به يې وګټله ، د

بوللې په سر کې به خاص جذابیت ، قوت ، عذبت او کشش و ، چې په دې اساس به اوریدونکي بوللـه تر پایه اوریدله .

د غزل دې تمهید ته یې تشبیب ، نسیب یا تغزل وایه چې د مینې او ښکلا په ستاینو به ولاړه وه ، الفاظ به یې دومره خواږه او رانه و ، لکه له ګلابو چې عطر جوړ کړي ، دا ښکلي الفاظ په حقیقت کې هغه زرینې خښتې وې چې د غزل ماڼۍ پرې ودانیږي ، خو د عربو په ګرمو او تبجنو دښتو کې قصیدې خپله دا نازولې لور تل په اوږه ګرځوله او نه یې پرېښودله چې په دې سره ځمکه پلې شي ، پښې یې وسوځي او یا یې نور وجود د ګرمۍ په غشو داغي شي ، د غزل لکه څنګه چې بدن نازک او تنکی وه همداسې قدمونه هم واړه او لنډ وه د تشبیب او تغزل بیتونه به یې ډېر لږ وه لکه پنځو تر پنځه لسو بیتونو وه سره له دې چې بوللـه سوونه بیتونو ته رسېدله ، د غزل په هر بیت کې به یوه خبره بشپړیدله .

د اسلام له راتګ سره سم افغانستان ته هم عربي ادبیات راغلل بیا د سلطان محمود غزنوي په وخت کې ډېرو لیکوالانو له قصیدې راوروسته د غزل په ماشومه ژبه خبرې پیل کړې ، پښتو ژبې سره له دې چې له ویدي او اوستایي دورې نه خوږه ولسي او زړه شاعري درلوده د عربي ژبې سوغات یې هم په ځمکه و نه غورځاوه ، بوللې ،

څلوريزې او غزلې ته يې هم هرکلى ووايه ،خو د خپل ادب رنګ يې ورکړ ، د عروضو پر ځاى يې د خپل تونيک سېلابيک رخت جامې ورواغوستې .

لکه څنګه چې د قصيدې صنف پښتو ته راغى همداسې غزلې هم د پښتو ادب په ورشو ګانو خپل پاسته او غزالي قدمونه کېښودل او په همغه خوږه او عنبرينه ژبه يې له پښتو سره د زړه خواله وکړه ، د مينې خبرې يې وکړې او د مينې رازونه يې بيان کړل .

د شتو معلوماتو له مخې لومړى ځل اکبر زميندا وري د غزل پېغله د پښتو ادب په ځمکه پلې او د ژوند زمينه يې ورته برابره کړه او هغه خوږه ژبه يې ورکړه چې د غزلې غوښتنه وه :

د خپل ځان له حيرانۍ به څه ويل کړم

د عشق وير به تل په خپله پتــول کړم

اکبر زميندا وری))

د ښاغلي رفيع صاحب له پورته وينا څخه دا څرګنديږي چې غزل د قصيدې په څېر له عربو څخه راپاتې او د قصيدې له ښکلا څخه زېږېدلى ژانر دى چې پورته څرګندونو څخه د غزل په تاريخ لا ښه پوهېدلى شو .